پوهندوی دوکتور سید حسام (مل)

## دوطن دګوند د شهیدانو پیغام

د وطن د ګوند ملګرو چیری یاستیی ؟
د یوی آرمان ملګرو چیری یاستیی ؟
له قبرونو مو ټول تاسو ته پیغام دی
په غور واوری ای ملګرو چیری یاستیی ؟
*
ځمونږ هډوکی د ښمن باسی له قبرونو
له مزار مو ښکته کیږی بیرقونو
مونږ په تاسو نازیدو ګرانو ملګرو
ځمونږ غږ واوری ملګرو چیری یاستیی ؟
*
ځمونږ کونډی ، یتیمان ټول نهار ګرځی
ټول سوالګرشو په سرک اوبازار ګرځی
تاسی هم د هغو اوښکی پاکی نکړل
سر ګریوان ته کړی ملګرو چیری یاستیی ؟
*
مونږ د ستا سو د آرمان ټول شهیدان یو
له یو سره مونږټول پروت په قبرستان یو
مونږ ځانونه له یو سره ټول قربان کړل
پت مو وساتیی ملګرو چیری یاستیی ؟
*
مونږخبر شوچی ګروپونه مو جوړ کړی
د وطن ګوند په شعبو مو ټول ویشلی
څوک چپه او څوک راسته خواته روان یاست
مونږ نارام یاستو ملګرو چیری یاستیی ؟
*

که مو لاره وه صحیح ولی په شا شویی
څه دپاره یو د بل ځنی جدا شویی
د تاریخ له قضاوته وویریږی
سره یو شیی ای ملګرو چیری یاستیی ؟
*
ها وعدی چی مو خلکو ته وه ورکړی
ها د ګوند چی ټول مرام مو وه منلی
په څه باندی سره ټول تیت او پرک شویی
مخ تورن نشی ملګرو چیری یاستیی ؟
*
د اشرارو واک اوس ټینګ دی په وطن
دافغان زحمتکشان دی لوخ په تن
نه ډوډی لری نه کور لری نه اور
لږ غیرت وکړی ملګرو چیری یاستیی ؟
*
د غلیم تر څنګ هیڅ مه کیښنی قرار
ټول ځمونږ دی قاتلین واړه په شمار
په وحدت سره غلیم نه مو غچ واخلی
زرخوشحال موکړی ملګرو چیری یاستیی ؟
*
خپل صفونه سره زر ټول برابر کړی
پاک آرمان د شهیدانو خپل تر سر کړی
د وحدت او اتفاق لاسونه ورکړی
ټول په ځان راشی ملګرو چیری یاستیی ؟
*
د شعبو او ګروپونو لیدرانو
لمړی تاس و سره کیښنی خوږ یارانو
خپل صفوف سره نژدی کړی زر تر زره

وخت تیریږی پوه ملګرو چیری یاستیی ؟
*

ګوند له سره په کدرونو سره جوړکړی
ځانځانی په یخ اوبو سره زر سوړ کړی
د بی وزلو آرمانونه ټول تر سر کړی
غفلت مه کویی ملګرو چیری یاستیی ؟
*
سنګر مه پریږدی غلیم ته عزیزانو
سره یو شی د یوی لار راه رویانو
مونږه پریږدی چی آرام په ګورکی اوسوو
بریالی اوسیی ملګرو چیری یاستیی
*
څمونږ مزار بیا له سره ټول ګلزار کوی
د وحدت د ګل ګیډی مو په مزار کړی
رڼا ورځ پر غلیم باندی ماتم کړی
حرکت .وکئ ملګرو چیری یاستیی ؟

11052008

www.ayenda.org